# کورني تاوتريخوالي سره مخ کيدو کې څه بايد وکړو



## آيا پوهيږئ؟

هغه شخص چې تاسې ورسره ژوند کوئ، همسر، ملګرى يا تاسې ته کوم څوک نږدې ستاسې پروړاندې تاوتريخوالى کوي يا مو پدې اړه ګواښي. په دا ډول شرايطو کې ګډ ژوند شونى ندى. دا ستاسې لپاره د ويرې او فشار رامينځته کيدو لامل کيږي. آيا د خلاصون لارې په لټه کې ياست.

که وغواړئ چې محکمې ته په ګډ کور کې د ځانګړې خصوصي ځاى لرلو لپاره غوښتنه وسپارئ نو موږ ستاسې څخه ملاتړ کوو. سربيره پردې تاسې کولى شئ د ځان څخه محافظت غوښتنه هم وکړئ. پدې صورت کې مجرم شخص نشي کولى تاسې سره اړيکه ولري يا تاسې وځوروي يا تاسې د ځان سره ويسي.

په هغه صورت کې چې ستاسې د اوسيدو اجازه ستاسې خاوند پورې تړلې وي نو کولى شئ له سره د اختصاصي اوسيدو اجازې لپاره ګام پورته کړئ. موږ تاسې سره د اوسيدو د وضعيت او د تولنيزو مرستو څخه ګټه پورته کولو حق په برخه کې ملاتړ کوو.

د خاوند څخه جلاکيدو په صورت کې کولى شئ د اولادونو ګډ ساتنې حق ولرئ او د خپلو اولادونو څخه به جلانشئ. په ځانګړې مواردو کې کولى شئ يوازې د خپلو اولادونو د ساتنې حق ولرئ.

## د ماشومانو او ښځو د ملاتړ کور

تاسې کولى شئ پريکړه وکړئ چې د دې ټولو امکاناتو سره سره بياهم د ښځو د کور حفاظتي خدماتو څخه ګټه پورته کړئ.

موږ هم کولى شو د اړتيا په صورت کې تاسې او ستاسې ماشومانو لپاره د اوسيدو ځاى برابر کړو. د ښځو د اوسيدو مرکز کې تاسې کولى شئ په ارامۍ سره د خپل ژوند لپاره کړنلاره برابر کړئ. سربيره پردې په منظم ډول تاسې ته د مشورې خدمات وړاندې کيږي.

## د مرستې تليفون

شپه او ورځ 24 ساعتونه او په کال کې 365 ورځې د مرستې تليفون ستاسې واک کې شتون لري. تاسې لدې لارې کولى شئ په مختلفو ژبو، د کورني تاوتريخوالي سره د مخ کيدو څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ. د خصوصي او وړيا تليفون شميره:

08000-116016

## مشوره او مرسته

پرته لدې چې تاسې غواړئ د خپل ژوند د شريک څخه جلا شئ او يا بياهم د هغه سره ژوند وکړئ، موږ تل ستاسې په څنګ کې يو او ستاسې څخه ملاتړ کوو.

د ښځو د مشورې مرکز د ښځو لپاره د مشورې يو خپلواک مرکز دى. موږ د هغه ماشومانو ملاتړ کوو چې د تاوتريخوالي سره مخ شوي وي. د مشورې خدمات وړيا او د شخصي حريم په ساتنې سره وړاندې کيږي. موږ محرميت ته ژمن يو.

که په الماني خبرې نشئ کولى، نو مهرباني وکړئ د خپل کوم ملګرې يا خپلوان څخه غوښتنه وکړئ چې موږ سره اړيکه ونيسي. دغه افراد کولى شي د مشورو ناستو کې ستاسې ملګرتيا وکړي. موږ په مختلف ژبو بلد ژباړونکې هم لرو.

هغه کډوالې ښځې چې لاهم د اوسيدو وضعيت يې مشخص شوى ندى هم کولى شي د مشورې خدماتو څخه ګټه پورته کړي او موږ هڅه کوو چې هغوى ته خورا ښه خدمات وړاندې کړو.

د اړتيا په صورت کې کولى شو تاسې ته ځانګړې امنيتي برنامه چمتو کړو.

## حفاظت او امنيت

110 که چيرې د ځورونې او وهلو سره مخ شئ نو کولى شئ د شميرې له لارې د پوليسو سره اړيکه ونيسئ ترڅو سمدلاسه د دې ناوړه چلند پروړاندې درسره مرسته وشي.

دا امکان شتون لري چې پوليس مجرم نفر له کور څخه وباسي. دغه سړى بايد کلي تسليم کړي او له کور څخه ووځي. هغه نبايد تر 14 ورځو پورې کور ته راستون شي.

تاسې پدې 14 ورځو کې وخت لرئ چې په ارامه فکر وکړئ چې غواړئ څه ترسره کړئ.

**د معلوماتو وړاندې کولو بروشورد دې وخت څخه د مشورې خدماتو څخه ګټه پورته کولو لپاره کار واخلئ!**

د معلوماتو

## کورنى تاوتريخوالى جرم ګڼل کيږي او نبايد ترسره شي!

## د فيلدرشتات سيمه کې ملاتړ

Frauen helfen Frauen Filder e.V.

**په فيلدرشتات کې د "ښځې د ښځو سره مرسته کوي" مشورې مرکز**

70794 فيلدرشتات • واټ توبينګن د 7 (Tübinger Str. 7   70794 Filderstadt)

Fon: **0711-79 49 414**

e-mail: beratung@frauenhelfenfrauenfilder.de

www.frauenhelfenfrauenfilder.de

Gefördert durch die GlücksSpirale VON LOTTO